شریعت

اونیزه

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحریک نشراتي ارگان

لومړی کال | څلوېښتمه گڼه | چهارشنبه د ۱۳۷۵ هـ ش کال دمیزان دمیاشتي (۱۱) | د ۱۹۹۶ میلادي کال اکتوبر (۲) . | د ۱٤۱۷ هـ ق کال جمادي الأول (۲۰)

دخدای «ج» اورسول ﷺ مخالفان به ذلیل وي

بی شکه هغه کسان چي مخالفت کوي له الله او دهغه له رسول ﷺ سره دوي په ذلیلانو او مغلوبانوکی دي.

بری وه کړم زه اورسوالان ځما ، بیشکه الله ډیر قوي ښه غالب دي . ژباړه (مجادله : ۲۰)

هوښیار څوك اوبې همته څوك؟

حضرت سداد بن اوس رضي الله عنه وايي: دالله رسول ﷺ فرمايلي دي:« هوښيار هغه څوك ده چي له ځان سره بي محاسبه وکړه اوله مرگ نه وروسته ژوند دپاره بي كار وكړ. ارعاجز (بي همته) هغه څوك دي چي خپل نفس بي دخواهشاتو تابع كړ، اوپه الله (جل جلاله) پوري بي د (فضل اوكرم) اميد بي وته وتړل. (مشكوة - باب الضيافة)

سپاهیان اسلام مراکز مهم نظامي وستراتیژیك جبل السراج وسالنگ را فتح وولایات پروان ، کاپیسا از لوث مفسدین اداره ائتلافي تصفیه کردند

مردم شریف ومجاهد پروان ،کاپیسا از لشکریان اسلام استقبال گرم نمودند

مجاهدان اسلام به تعقیب نیروهای فراري مفسد اداره ائتلافي به طرف دره پنجشیر پیشروي دارند

خبرنگار ما از پروان خبر میدهد که : سپاهیان اسلام بعداز فتح مبین کابل ، بزرگترین مرکز نظامي هوایي «بگرام» ويه ادامه آن مرکز ولایت چهاریکارو متعاقباً مرکز عمومي فرماندهي مسعود جبل السراج ودره ستراتيژيك سالنگ مکمل فتح ويه دره پنجشیر پیشروي دارند.

خبرنگار ما مي افزاید که فعلاً ولایات پروان وکاپیسا از لوث اداره ائتلافي تصفیه گردیده مردم مجاهد وبیچاره آن دیار از سربازان رشید تحریك اسلامي طالبان استقبال شایان نمودند.

خبر مي افزاید که به تعقیب نیروهاي اداره ائتلافي سربازان رشید اسلام به طرف پنجشیر پیش روي دارند وانشاء الله عنقریب همه ئی کشور از لوث فراریان ائتلافي پاکسازي و«...»ت اسلامي درسراسر افغانستان حاکم خواهد گردید.

دپاکستان پخوانی سر لښکر میرزا اسلم بیگ وویل:

پاکستان او ایران ته بکار دي چي دافغانستان دبیاودانولو په کار کی فعاله ونډه واخلی

دپاکستان دپوځ پخواني سرلښکر محترم میرزا اسلم بیگ ویلی دي چي دافغانستان په نوی قیضده خاره دطالبانو له قبضې نه وروسته په سیمه کی نوی صورت حال رامنځ ته شوی دی، ده وویل چي اوس به په پاکستان کی میشته شل لکه افغانان خپل هیوادته ستانه شي، همدارنگه پاکستان او ایران ته بکار دی چي دافغانستان دبیاودانولو په کار کی فعال رول ولوبوي .

په هیواد کی داسلامی نظام دټینگښت په اړه داصلاحی شوری پریکړه لیك

اصلاحي شورى ديكشنبي په ورځ په(۱۳۷۵/۷/۸ - ۱۹۹٦/۹/۲۹) تینیه دډاکتر فاروق اعظم په مشري غونډه وکړه. په غونډه کی ښاغلو وکیل حاجي عبدالوهاب خان جبارخیل، سناتور غلام نبي چکنوری ، حاجي غلام دستگیر بابکرخیل، حاجي رستم خان دحصارت ، جنرال محمد یعقوب خان ، قاري حنیف الله شینواری اوقاضي محمد شریف اسحق زی خبری وکړی . دوی دافغانستان پرموجوده صورتحال غور اودطالبانو له خوانی دکابل فتح په هیواد کی دامن او استقرار ، دملي وحدت دتأمین اودمجاهدینو دارمان دپوره کې لپاره بو زیري وگانه . څرنگه چي اوس طالبان دمملکت دمرکز په شمول دهیواد تر دوه ثلثه ډیره برخه په لاس کی لري نوله ټولو هغو قوتونو څخه یي چي تراوسه دطالبانو سره ندي یوځای شوی په ټینگه وغوښتل چي دنوري وینې توئيدو دمختنیوی اودهیواد دعلیا ، مصالحو په خاطر دطالبانو ملگری شي ، غونډې دټولو گاونډیانو اوبین المللی مجامعو څخه وغوښتل چي دطالبانو حکومت ژر په (٤) مخ

جناب مولوي احسان الله «احسان» عضو شوري عالي تحریك اسلامي باهفته نامه ئي شريعت:

نجیب قبلا از طرف شریعت وملت محکوم گردیده بود

ما به آمدن ظاهرشاه به حیث یك فرد مسلمان وافغان هیچ نوع اعتراض نداریم اما آمدن ظاهرشاه به حیث رئیس جمهور ویا به حیثیت دیگري سخن است ازوقت گذشته

ماغرض رفع مشکلات واحتیاجات اولیه وعاجل هم شهریان کابل پلانهاي لازمي را در دست کار داریم وانشاء الله به ذودترین فرصت ازمشکلات شهریان کابل خیلي کاسته خواهد

جناب مولوي صاحب حالات نظامي وسیاسي کشور را خیلي مثبت ارزیابي کرده گفتند: تحریك اسلامي در وقت خیلي کم بنصرت خداوندي « جل جلاله » وهمکاري مردم مسلمان افغان به فتوحات وپیروزیهاي بزرگ دست یافتند والحمد لله شریعت غراي محمدي صلي الله علیه وسلم را درمناطق مفتوحه نافذ وامنیت را قائم نمودند، ص (٤)

دعالي شوری غړي محترم مولوي وکیل احمد «متوکل» له بي بي سي سره په مرکه کی:

دکابل دړنگي شوي اداري مشران دي دبیت المال اجناس تسلیم کړي

دافغانستان مسلمان ملت ټول هغه قوانین مني چي داسلام په دین کی ثغبتني دي

په هیواد کي داسلامي نظام دټینگښت په اړه محترم مولوي وکیل احمدمتوکل له بي بي سي سره په یوه مرکه کی وویل: دافغانستان دمسلمان اومجاهد اولس په بشپ ملاتړ او دلوي خداي « جل جلاله » په مرسته کابل دظلم اوفساد له عاملینو څخه (٤)مخ

محترم مولوي محمد نبي (محمدي) وویل:

مسلمان اومجاهد ملت دي په بوره اخلاص اوصداقت د اسلامي حکومت ملاتړ وکړي

دنړۍ هیوادونه په تیره بیا گونډي هیوادو پرته له ځنډه دطالبانو اسلامي حکومت په رسمیت وپیژني

دافغانستان دحرکت انقلاب اسلامي امیر محترم مولوي محمد نبي محمدي په هیواد کي دطالبانو داسلامي تحریك په لاس دیو سوچه اسلامي حکومت دټینگښت له امله د زړ له کومي خوښي ښکاره کړي اوویلي یي دي: دطالبانو اسلامي تحریك پاك (٤)مخ

داسلامي تحریك داطلاعاتو او کلتور رئیس ملا امیرخان (متقي) له بي بي سي سره په مرکه کی :

دیو اسلامي حکومت وظیفه داده چي دخپلو خلکو ضرورتونه په پام کي ونیسي

دښځو دحقوقو په باب محترم متقي صاحب وویل

« تاسو ته معلومه ده چي دافغانستان په ځوارلس کلن جهاد کښي چي کومې قرباني افغانانو ورکړيدي او اوس چي طالبان کومې قرباني ورکوي دا بواځې اوبواځې ددي (٤)مخ

مو‌ږ په افغانستان کي داسلامي نظام دټینگښت په خوشحالي کي له افغانانو سره شریك یو

دصوبه سرحد علماء

زموږ کامیابي ستاسو اوزموږ خوشحالي ستاسو خوشحالي ده

مولوي محمد صادق

دمیزان په نهمه نیته ددوشنبي په ورځ دپاکستان دصوبه سرحد دجمعیت العلماء فضل الرحمن گروپ یو دروند هیئت په پیښور کي دطالبانو نمایندگي ته ورغلي اوپه (٤)مخ

محترم مولوي محمد یونس خالص وعده هر نوع همکاري را با تحریك اسلامي طالبان سپرد

طالبان کابل را تصرف ، شریعت را تنفیذ نمودند ماغرض همین مقصد با روسها مبارزه کردیم بابه دارکردن نجیب ، طالبان براي شهداء ، یتیمان وبیوه ها اطمینان کامل بخشیدند .

خبرنگار ما به حواله روزنامه ص (٤)

دکونړ والي دهغه ولایت علما ، کرامو ، سپین ږیرو، قوماندانانو او قامي مشرانو ته وویل:

اسلامي تحریك ددین او وطن له خدمت څخه پرته بل مقصد نه لري

دکونړ ولایت له مرکز اسعدآباد څخه زموږ خبریال خبر راکوي چي دهغه ولایت قامي مشران ، سپین ږیري ، عالمان اوقوماندانان دولایت مقام ته ورغلل اودهغه ولایت له والي سره یي وکتل . خبریال وایي قامي مشرانو . (٤)مخ

دصوبه سرحد جمعیت علماي اسلام مولانا فضل الرحمن گروپ دمبارکی پیغام لیکی:

موږ تر هرڅه نه مخکي په افغانستان کي داسلامي بیرغ درپولو اواسلامي نظام دټینگولو له امله تاسو ته مبارکي وړاندي کوو

دصوبه سرحد جمعیت علماي اسلام مولانا فضل الرحمن گروپ پخپل ځانگړي پیغام کي دامیرالمومنین محترم ملامحمد عمر «مجاهد» اودافغانستان داسلامي دولت په نامه خپل دمبارکي مراتب داسي څرگندوي. جمعیت علماي صوبه سرحد مولانا فضل الرحمن گروپ د رب ذوالجلال بي حده شکر اداکوي چي دافغانستان دمسلمان ملت قرباني يي پخپل درباركي قبولي كړي اوهغو (٤)مخ

سرمقاله

دیونیم میلیون افغانانو قاتل اوداسلامي تحریك غوڅ عمل

دطالبانو اسلامي تحریك چي دهرغړي اوهر مجاهد ذكر اوفكر، زړه اوماغزه يي له اسلامي انقلاب اواسلامي شريعت څخه پرته بل څه نه پيژني ، له كفارو سره سختي او مومنانو سره مهرباني اوشفقت يي دايمان جز اود ژوندانه د كړو وړو اساس تشكيلوي، دافغانستان دپلازمېني كابل دفتحې نه وروسته ددوي لمړي كار دملحد نجيب اعدامول و چي دافغانستان د يونيم ميليون شهيدانو روحونه يي وړاندي خوشحاله كړل، دهيواد دكونډو اويتيمانو دمظلوميت اوښكي يي وړاندي پاكي كړي او دهيواد دعامو مسلمانانو سترگي يي وړاندي روښانه كړي.

نجيب چي دده دوروور صديق الله راهي په وينا سخت بداخلاقه ملحد اوكمونست و اودخاد د رياست په وخت كي يي نوي زره بي گناه افغانان توقيف او وژلي دي «دهيواد بودجه يي په خپله عياشي ،فحاشي اود افغانستان اوپاكستان په كمونستانو باندي په ډيره ناروا توگه څرڅوله اوپه سيمه كي يي داسلامي خوځښتونو دځپلو دپاره د روسانو په قومانده له هر ناروا او وحشي عملياتو څخه كار اخيست او بالاخير دژوند په وروستيو كي دكمونيزم د ماتي نه وروسته

پاتي په (۲) مخ

دکابل د اداري د راپرزیا و ستر عوامل (۲)مخ

بشري حقونه اوملگرو ملتونو ... (۲)مخ

په هیواد کي اسلامي اداره او دملت ... (۳)مخ

د ادب ملغلرې . (۳)مخ

خدمات ديني واجتماعي علماء ... (۳)مخ

افغانستان کی ددیني ښووني او روزنی د ... (۳)مخ

نیروهاي مسلح تحریك اسلامي طالبان تحت فرماندهي امیرالمؤمنین سرقومندان اعلي نیروهاي مسلح کشور در راه تنفیذ شریعت به هر نوع قرباني آماده میباشند

شريعت

دامتياز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحريك
دتأسيس كال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليكوال هيئت تركتنى لاندي.
مسئول مدير : مولوى احمد جان
تيليفون : ۸٤۰۲۷۸
آدرس : په پيښور كي دطالبانو داسلامي تحريك نمائندگي
دېوې گڼي بيه : په هيواد كي (۵۰۰) افغانى
: په پاكستان كي (۳) كلداري

سرمقاله . . .

دنړي اودسيمي دسيكولرستانو داميد مركز گرځيدلي ؤ دده په اعدام باندي دده ځيره خوازه كمونستان اوسيكولرستان ډير خفه دي. اما دافغانستان او دسيمي مسلمانان ډير خوشحاله دي.

دخوشحالي اوخفگان دغه متنوعه صحنه دپيغمبر « صلي الله عليه وسلم » هغه مبارك حديث ډيره ښه ترسيموي چي فرمايي «كفر ټول يوملت دی» هر چيرته چي وي ، اومخلص مسلمانان سره ورونه دي هر چيرته اوپه هر هيواد كي چي وي.

نجيب دخاد په مشري او دخپلي واكدارى په وخت كي دپاكستان په خلاف ډيري دسيسي جوړي كړي ، په دغه هيواد كي يې دخپلو اجنټانو په واسطه ډيري چاودني كړي ، او ډيري منفي يې بوري كړي دي، دهندوستان دهندوانو په مشوره يې دپاكستان په خلاف ډيري توطيئي جوړي كړي دي، خو اوس په پاكستان كي دده غائبانه جنازه كول چي كوم شرعي حيثيت هم نه لري اودپاكستان په رسمي ايوانونو كي دهغه فاتحي كول داسي كارونه دي چي سړي نه پوهيږي په دي باندي دخاد له خوا وژل شوي پاكستاني شهيدان خوشحاله كوي اوكه ددوي كونډي اويتيمان اويا خوهندوستاني دسبه كاران تشويقوي اوكه دافغانستان دبونيم ميليون شهيد وركونكي با ايمانه اوپانور ملت سپكه او بي عزتي كوي! په هرحال ددغو كړو وړو شاته كه هر يو عامل موجود وي دستاينې اوتمجيد وړ نه دي، بلكي انسان بايد خجالت وكړي.

دنجيب اعدام دلوي خداي « جل جلاله » له خوا دطالبانو د اسلامي تحريك سترامتحان او دافغانستان دمسلمان او مجاهد ملت په وړاندي له اسلامي جهاد سره ددوي داسلاميت اوصداقت كامياب اوبريالي ازموينه وه چي دلوي خداي « جل جلاله » په فضل اومهرباني او ددوي د ايماني غيرت او همت په بركت سرلوړي اوبريالي ورڅخه ووتل. د الهي امتحان دغه دوره داسلامي دولت په لومړي جمهور رئيس صبغة الله مجددي باندي راغله اوبيا په رباني او وروسته په حكمتيار را برابره شوه ، خو هغوي ونكړاي شول له دغي ازمويني څخه بريالي تير شي اوله كفر اوالحاد سره په كركه اونفرت دافغانستان مسلمان ملت ته دصداقت ښكاره ثبوت وړاندي كړي، البته دغه سعادت لوي خداي « جل جلاله » ددغه باايمانه تحريك په برخه كړي دي او دا برخي اذلي دي نه په زور نه په زاري دي.

> اين سعادت بزور بازونيست
> تانه بخشد خداي بخشنـــده

د شريعت تبصره

په هيواد كي اسلامي اداره او دملت دستونزو له منځه وړل

دطالبانو اسلامي تحريك چي په هيواد كي دظلم اوفساد دله منځه وړلو لپاره راپورته شوى اودخداي «جل جلاله» پرځمكه د خداي «جل جلاله» دقانون دحاكميت لپاره يې هلي ځلي پيل كړي وي دادي دلوى اومهربان خداي «جل جلاله» په مرسته او دخپلو مسلمانو او دينداړو خلكو په بشپړ ملاتړ يې وكړاى شول چي دظلم ، وحشت ، خپل سرى اوځان غوښتني ټول عوامل له منځه يوسي او پرځاى يې يو سوچه ، پاك اوبشپړ اسلامي حاكميت ټينگ كړي.

كه څه هم دغه عالي هدف ته درسيدو لپاره ديوشمير پاكو اودينداړو افغانانو وينې توپې شوي .خو داهغه وينې وې چي دطالمانو دظلم بيړۍ يې په توپاني ځپو كي داسي پسې واخيسته چي دړې اتوونۍ يې يوه په بله پسې پر خوا اوبله خوا لاهو شوي او اوس دهيواد رنځيدلو اوځوريدلو اوسيدونكو ابله دارام ساه واخيسته اودخپل ژوند دسمون لپاره يې هلي ځلي پيل كړي.

په كابل كي دظلم اوفساد دبقاياو په له منځه وړلو سره زموږ وظيفه پاى ته نه ده رسيدلي . لا اوس هم دهيواد په ځينو ليرى پرتو سيمو كي دتخريبكارانو او ورانكارانو نښي نښاني ليدل كيږي. خو دطالبانو د اسلامي تحريك زړور ځواكونه وظيفه لري چي په ټول هيواد كي داسلامي عدالت په پلي كولو سره دهيواد په گوټ گوټ كي ددغه شان تخريبكارانو او ورانكارانو وروستي نښي نښاني هم له منځه يوسي او دهيواد په لويشت لويشت كي په بشپړ ډول شرعي نظام نافذ كړي.

دافغانستان اسلامي دولت په هيواد كي دامنيت دتأمين ترڅنگ عمراني اوعرفاني فعاليتونه هم له پامه نه غورځوي ، دغه اسلامي تحريك په پام كي لري چي له ټولو ممكنه وسايلو څخه په استفادې سره دوطن ټولي هغه وراني ويجاړي سمي كړي چي په تيرو اتلسو كلونو كي زموږ وطنوال ورسره لاس اوگريوان دي. موږ په هغه وخت خوشبخت يو چي دخپلي اسلامي تگ لاري په رڼا كي بخپل ټكخكي ټول پراته ځنډونه له منځه يوسو.

كه څه هم دكنډواله شوي هيواد بياودانول ډير دروند كار دي او دموجوده امكاناتو په واسطه دكاميابي چانس ډير كم ليدل كيږي. خو له يوى خوا دلوى خداى«جل جلاله» په مرسته اودخپلو خلكو په بې دريغه ملاتړ موږ ډاډه يو چي لكه څنگه چي دظلم اوفساد دله منځه وړلو په كار كي سوبرياليتوبونه په برخه شول له بلي خوابه دغه شان دگران هيوادپه بياودانولو كي هم پرمشكلاتو برى ترلاسه كړو . موږ خپله حوصله له لاسه نه وركوو اوپه خپلو زړونو كي مايوسي ته ځاى نه ورکوو بلكي دوطن دمينې په عالي روحيه هرډول مشكلاتو ته سينه وركوو او هيله من يو چي په دي مقدسه لاركي پراته خنډونه به هم يو په بل پسي له منځه ولاړ شي .

همدانن دهيواد مركزي خزاني بيخي خالي دي، كومي پيسي چي دكابل رنگي ...

دملگرو ملتونو مؤسسي ته يو تنقيدي كتنه

بشري حقونه اودملگرو ملتونو دوه مخى

مولوي عبدالحكيم «مجاهد»

دوولسمه برخه

دملگرومللتونو دمؤسسي دمنشور لمړي ماده ، دريم بند په نړۍ كي دبشري حقونو اودانسان بنسټيزو آزاديو ته داحترام كولو تائيد كوي، په دي برسيره دملگرو ملتونو دبشري حقونو نړيوال منشور چي په ديرشو مادوكي ترتيب شوي دي اوددي په تفسير اوتعبير كي دجنيو مختلف كنوينشونه رامنځته شوي دي .

اوس ملگري ملتونه چي اصلي واكداران اوچلونكي يې استعماري هيوادونه او په ځانگړي توگه لويديځ دي، دعمل په ميدان كي ددريمي نړي اوپه خصوصي توگه له اسلامي هيوادونه سره له دوه مخي څخه كاراخلي.

بشر دغربي هيوادونو اواستعماري ځواكونو دگټو اومنافعو په وړاندي « حيثيت نه لري ، دهغه وژل ، يې كوره له هيوادنه شړل، له بنسټيزو آزاد يو څخه محرومول، تي عفته كول، په لوږه مجبورولو باندي وژل، په فحشا باندي مجبورول، ښځي دتجارتي اوجنسي اهدافو دپاره لوڅول، له نارينه وو سره په گډه په تعليمي ادارو اودفترونو كي توظيفول، په هوټلونو، شرابخانو اوكانسرتونو كي دورځي اوشپي په مخه تشويقول اوبالاخير په ميليونونو انسانان دايډز(AIDS) په وژونكي ناعلاجه بيمارى باندي تباه كول دملگرو ملتونو دمؤسسي له خوا نه يواځي دا چي دغه اعمال كله محكوم شوي نه دي بلكي برعكس دلويديځ اونورو استعماري هيوادونو دناروا اعمالو دپاره ،ناروا مصوبي تصويبوي، ناروا كنوينسيونونه جوړوي هغو ته دجواز دمشروعيت له شرمه ډكي حيلي اوبهاني تراشي اويا خو لږترلږه په هغو باندي سترگي پټوي، اوناروا اغماض كوي.

خو ددي برعكس كله چي په اسلامي هيوادونو كي مسلمانان داستعماري ځواكونو داستعمار او استيدادي رژيمونو دظلم اواستبداد څخه ځان آزادوي دآزادي مبارزه كوي، خپل غصب شوي حقونه لاس ته راوړي، په خپل سپيڅلي دين باندي دلوي خداي «جل جلاله» د رضا ، دپاره عمل كوي، په خپلو هيوادونو كي اسلامي شريعت پلي كوي ،انسان ته دانسان له غلامي څخه نجات وركوي ، دخلكو سر ، مال، اوناموس په امن كوي، دفحشا، عرياني ، اوجنسي بې لاري مخه نيسي، ملتونوته سوله اوامنيت راولي ، دترقي اوپرمختيا پروگرامونه جوړوي

دملگرو ملتونو مؤسسه دخپلو اصلي واكدارانو په قومانده ددغو آزادي غوښتونكو خلكو ..ونو اوحكومتونو په خلاف دبشري حقونو دمخالفت ناروا تبليغات كوي، په دوي باندي دتندروانو او تروريستانو تاپي لگوي، داقتصادي محاصري استعماري وسله استعمالوي اوبالاخره دنظامي مداخلي گواښونه كوي. داټول هغه ترخه واقعيتونه دي چي نن دنړي هرعقل لرونكي انسان ورباندي پوهيږي، زړونه يې ځوريږي دعدالت او انصاف په خلاف داستعماري هيوادونو دغه اعمال چي دملگرو ملتونو دباعزته اوباوقاره سازمان له چاپلو څخه تر سره كيږي حيران پاته كيږي اوله دغو آزادي غوښتونكو اودين خوښونكو خوځښتونو او دولتونو سره يې محبت اوحمايت نور هم زياتيږي اوپه دي توگه اوس په نړي كي داستعماري هيوادونو په خلاف كركه اونفرت په زياتيدو دي. هرځاي خلك دآزادو خوځښتونو اودولتونو ملاتړ كوي اودملگرو ملتونو له چاپلو څخه داستعماري هيوادونو په استعماري پروپاگنډو اوتبليغاتو باندي چي دبشري حقونو اوانسان دوستي ترغولونكي عنوان لاندي يې كوي باورنه لري چي په دي توگه خپله دملگرو ملتونو مؤسسه دنړي دملتونو ترمينځ ورځ په ورځ خپل وقار اوعزت له لاسه وركوي.

ددي دپاره چي دبشري حقونو اوانسان دوستي په اړوند دملگرومللتونو دمؤسسي دوه مخي اوامتيازي سلوك مو ښه ثرگند كړي وي، غواړو دنمونې په توگه په يو شمير هيوادونو كي ددوي له دغو اعمالو او كړوړو څخه پرده پورته كړو. په دي لړ كي غواړو لمړي په افغانستان كي دپخواني شوروي اتحاد دروسي استعمار دظلم اواستبداد او نجيب ، كارمل ، آمين اوتركي د وحشت او بربريت ته په اشاري سره دملگرو ملتونو دبشري حقونو دغه غولونكي دوه مخي معيارونه موازنه كړو او گورو چي دوي دكمونستانو په دوره كي دبشري حقونو څخه څو سره دفاع كړي ده او اوس يې دطالبانو داسلامي تحريك د دولت په وخت كي په څومره طمطراق سره تبليغوي:

۱- افغانستان

په افغانستان كي د روسانو په قوماندهء دغوايي دمياشتي په ۷ ،۱۳۵۷هـ ش كال كي كمونستانو دقوځي كودتا په واسطه د داؤد حكومت راچپه كړ او نورمحمد تره كي دافغانستان جمهور رئيس اعلان شو . داود اودهغه قاميل يې بې له كومي محاكمي ووژل ، وروسته ورسره يې په ټول هيواد كي دمسلمانانو عامه وژنه پيل كړه اوپه زرگونو افغانان يې بنديخانوته ولېږل.

د وږي دمياشتي په ۲٦ ،۱۳۵۸ هـ ش كال نورمحمد تره كي يې له كومي محاكمي څخه ووژل شو او مشهور جلاد حفيظ الله امين دقدرت واگي په غير قانوني توگه ترلاسه كړي چي په زرگونو افغانان يې بې له كوم جرم او محاكمي ووژل اوزياتره يې په ډله ايزه توگه ژوندي ترخاورو لاندي كړل. دټولو بين المللي نورمونو او ډيپلوماتيكي مصئونيتونو اوحقوقو په خلاف په كابل كي په ډيره بې رحمي اوبربريت سره دامريكا لوي سفير ووژل شو. وروسې روسانو دجدي په ٦، ۱۳۵۸هـ ش كال كي حفيظ الله امي ووژل اوببرك كارمل يې دروسي ټانكونو په سرله دوشنبي څخه كابل ته راوړ. چي ورسره ورسره نژدي دوه لكه روسانو افغانستان اشغال كړ. دافغانستان مسلمان اومجاهد ملت ددغه يرغل په مقابل كي په ډيره ميړانه اوايماني قوت سره وجنگيدل چي ددوي دفشارپه نتيجه كي كارمل له مينځه ولاړ اونجيب يې ديوي غولونكي ملي روغي جوړي ترعنوان لاندي دافغانستان په خلكو باندي مسلط كړ.

نجيب چي د KGB وفادار غړي وو اوده خاد « دجاني اداري مشري يې په غاړه درلوده چي په لسهاوو زره افغانان يې دخاد په تعذيب خانو كي په مختلفو ځورونكيو شكنجو باندي تعذيبول اوبيا يې له كومي قانوني محاكمي نه پرته وژل. روسانو دخپل گوډاگي په توگه دكابل په تخت باندي كښينول. دنجيب وزور صديق الله راهي دنجيب په بداخلاقيو ، ظلمونو ،شكنجو اودهغه دكمونستي عقيدي په اړونديو كتاب ليكلي دي چي هغه يې ژاني، لوطي قاتل اوكمونست معرفي كړي دي. دكتاب په ٥٤ مخ كي ليكلي چي « نجيب نوي زره بيگناه افغانان مجاهدين توقيف كړي او وژلي دي. »

دنجيب وزور دكتاب په ۷۰ مخ كي ليكي : « نجيب نه يواځي داچي زموږ دبي وزله ملت بودجه يې په خپله عياشي ،دفاسد اوملگرو په عياشي باندي مصرف كړه بلكي بي اندازي پيسي يې دپاكستان دپښتنو اوبلوچو په ساتلو باندي په ډيره بې رحمانه توگه خرڅولي . دپاكستان دكمونست گوند مشران لكه اجمل خټك ، اوامام علي نازش او دبلوچو مشران لكه خيربخش مري يې په ډيرو زياتو مصارفو باندي په كابل كي ساتل. دوي هر يوه ته يې مجللي بنگلي ، ساتونكي گارد، نفرخدمت اواشيزنيولي وواودهريوه دپاره يې سرمي ضد بتز موټرونه وركړي وو. »

نجيب په دي توگه دپاكستان په كونستانو باندي سلاماتونكي مصارف كول چي خپل ملت يې دده له لاسه په پاكستان ، ايران اونورو هيوادونو كي دمهاجرت له فقره دكي شپي او ورځي تيرولي. اوپه داخل كي پاتي افغانان دغربت اومسكنت له كبله له ژوند څخه بيزاره وو.

كمونستانو او روسي بادارانو يې يونيم ميليون افغانان په شهادت ورسول، په سلهاوو زره يې معيوب كړل. په لكونو ميرمني يې بوري اوكونډي كړي اوشپينه زره افغانان يې داسي لادركه كړي دي چي نه يې ژوند معلوم دي اونه مرگ ، نه يې دوژلو دوسيي شته اونه دي بندي كيدلو اسناد ميرمني اوماشومان يې تر اوسه په انتظار ناست دي.

دغه ټول ظلمونه دروسانو او افغاني كمونستانو له خوا چي په سركې يې تركي، امين ، كارمل اونجيب وو دافغانستان په مظلومو اوبي دفاع خلكو باندي ترسره شول، خو دملگرو ملتونو مؤسسي تر اوسه پوري ددغو ټولو بشري حقونو دتباه كولو اوله پښو لاندي كولو مسئولين نه دي محاكمه كړي. ددغو جنايتونو دتحقيق دپاره يې كوم هيئت نه دي ليږلي، بين المللي عدالت تر اوسه پوري نه كوم روسي جنرال محاكمي ته راكښ كړي دي اونه يې د افغانانو دعامي وژني هغه كمونستان محاكمه كړل چي اوس په مسكو كي له خپلو بادارانو سره له عياشي فحاشي اوشرابخوري نه ډك شرمونكي ژوند كوي.

خو ددي برعكس كله چي دطالبانو داسلامي تحريك اداره نجيب او دهغه ملگري اعداموي دملگرو ملتونو دعمومي منشي دفتر په هغه باندي خپله ناخوښي ثرگندوي اوله دي سره دپاكستان كمونستان اودسيمي سيكولرستان هم ده« الكفر ملت واحد » په اساس خپل اسلام ضد احساسات ثرگندوي. دغه جريانات په ښكاره توگه ښيي چي دبشري حقونو دوه مخي معيار اوس دنړي دمسلمانانو دپاره دمنلو وړ نه دي.

* * *

دكابل د اداري د رابرزيدو ستر عوامل

په عالم الأسباب كي دهر څه لپاره عوامل موجود وي چي كله كله دغه اسباب ښكاره وي اوكله هم پټ پيټلي وي اوس چي الحمد لله دكابل پخواني ائتلافي اداري ديرله پسي ماتي څخه وروسته سقوط وكړ موږ غواړم چي دنوموړي اداري دسقوط دڅو مهم عوامل په گوته كړم .

۱- دمختلو فكرونو گډ ائتلاف :

په كوم اتحاد كي چي فكري انډول موجود نه وي هغه هيڅكله نشي بريالي كيداي اودا ځكه چي هره ډله كوښښ كوي چي خپله الغيزه زياته كړي اوپه زياته پيمانه استفاده وكړي ، دغه كوښښ ددوي توازن خرابوي چي طبعاً د همكاري روحيه له مينځه ځي اوپه دي اساس يې ستونزي زياتيږي او ددي دماتي عامل گرځي.

دكابل پخواني رژيم چي دحزب، جمعيت ، نظار شوري، سياف ډلي شيعه گانو دوو مخالف گوندونو ، كمونستانو ،ملوښتانو ، شعليانو ، ستميانو او نورو باندونو څخه مركب معجون ؤ نو ددي امكان يكي نه ؤ چي دافغانستان دمسلمان ولس د درد دواشي اوبادشرميدلي ماتي څخه ځان بچ كړي.

شوى ائتلافي اداري چاپولي دبانكونو اومالي وزارت پرځاى دشخصي غوښتنو په لاركي مصرفيدى اوخيره دي حدته ورسيده چي افغاني داسعارو په بازارونو كي خپل ارزښت بيخي له لاسه وركړ، نو ددغه شان كمزوري اومات گوډ اقتصاد دبيارغوني لپاره هم يوكوټلي اومنظم پلان په كار دي اوددغه ترمشكل ډله منځه وړلو لپاره مجربو اقتصاد پوهانو ته ضرورت دى، دافغانستان اسلامي دولت په دي برخه كي په ژوره توگه څيړنه كوي اوهيله لري چي دخداي «جل جلاله» په مرسته به دغه مشكل ته هم دحل لاره ومومي .

دكابل ائتلافي ادره چي له سقوط سره مخامخ شوه اودطالبانو ځواكونه دكابل په دروازو ودريدل، نو دكابل په گوداموتو كي پراته اوزيرمه شوي ټول خوراكي مواد يې له ځانه سره يوړل چي همدا اوس دكابل په گوداموتو كي هيڅ شي نه دي پاتي ، خو موږ چي دخداي «جل جلاله» په توكل راپورته شوي يو اود خداي «جل جلاله» په مرسته ايمان لرو په دي باوري يو چي انشا ، الله دكابل له گوريدلو اوكړيدلو خلكو څخه به دتل لپاره دلوري او قحطي ډغر ټول كړو، ځكه موږ داسلامي تگ لاري پرښت څه چي پيداكوو دخپلو خلكو خدمت ته يې وړاندي كوو اوڅه چي راسره وي له خپلو هيوادوالو سره يې شريكوو خودكابل دخالي شويو گودامونو ترډكيدو پوري بايد خپله حوصله له لاسه ورنه كړو او دراتلونكي راته سباون په هيله انتظار وباسو.

۲- دافغانستان دخلكو له سترو دسمانو سره دوستي:

دكابل سخكني اداري دافغانستان دمسلمان ولس هغه دښمنان په دوستي نيولي وو چي دهغوي لاسونه دافغانستان دبو نيم ميليون مسلمانانو په وينو سره دي، وطن ني په كنډوالو راته بدل كړي اوټول اسلامي اوقومي نواميس ني تر پښو لاندي كړل . اوددي سره سره هغه دمسلمانانو دښمن ته هم جولي نيولي وه چي هره ورځ په كشمير كي په لس گونو مسلمانان دخپلي ازادي دحق دغوښتني په جرم شهيدانوي اوهغه حكومت دي چي دافغانستان تيرو ټولو كمونستو حكومتونو سره نظامي، مالي اوسياسي مرسته كړي ده . نو دافغانستان قهرمان ولس چي ددي اداري دا بې شرمه عمل ته نظر وكړي دي ائتلاف ته يې په كركه كتلو سره ورڅخه نفرت وكړ اوهغه تحريك ته يې ښه راغلاست ووې چي دهغوي اسلامي اخلاق او ملي غيرت دلمر په شان ظاهره دي . چي په نتيجه كي نوموړي اداري سقوط وكړ، او ددي اداري په سقوط باندي روس اوهندوستان دلويي خواشيني په ثرگندولو سره ددي اداري ددوستي حق اداء كړ.

۳- له عامو خلكو سره دښمني:

ړنگي اداري د روسانو هغه عمل په ميراث اخيستي ؤ چي كله به دوى كومه سيمه كي ماته وخوړله او مجاهدينو باندي به يې وسه نه رسيده نو عام خلك به ني قتل عام كړل.

دكابل پخواني گوډاگي اداري به هم دغه عمل تكراراوه چي دهغه ښكاره مثال دجلال آباد له فتحي څخه وروسته ددي ښار مسلسله بمباري وه چي دخپلي ماتي غچ ني دمظلومو ښاريانو څخه واخيسته گويا چي دوي ته يې ددي خبري جزا ، وركوله چي دوي ولي داسلامي غورځنگ دمجاهدينو په راتلو خوشحاله دي. ددي اداري دغه بدنامه كارونو داسلامي تحريك دملاتړ اعلان وكړي اودكابل د اداري دړنگيدو دعا وكړي.

٤- دحدنه زيات ناروا:

كوم ظلم چي دكابل اداري ، دهغه اودهغي دمتحدينو ټوپكيان په دي كلونو كي په خلكو وكړل ، داسلامي تاريخ ځوارلس سوه كاله ددي مثال نه شي وركولاي چي داسلام په جامه كي چاداسي ظلم اوناروا كړي وي ، دغه ظلمونه چي قتل ، غلا ، فحشا ، منكر ، پاټك سالاري، دباعزته خلكو سپكاوي اودخلكو ځان، مال ، اوناموس ته سپك كتل اونور غيرشرعي او غير اخلاقي كارونه يكي شامل دي ،دمسلمانانو دزعملو وړنه و نو طبعاً خلكو داسي يو تحريك سره ملا تړ وكړ چي دغه عمده هدف ددي ظلمونو له مينځه وړل ؤ چي په نتيجه كي دا رژيم په بي شرمانه توگه ماته وخوړله .

٥- بدكرداره پوځ:

ديو هيواد پوځ دانسان دلاسونو اوپښو حيثيت لري توكه چيري دپوځ اخلاقي وزن برابروي اداره به سمه وچليږي اوكه چيري پوځيان بدكرداره ، بداخلاقه اوبدعمله وي نودا ملك ديو داسي انسان مثال لري چي په لاسونو شل اوپه پښو گوډ وي او دغسي انسان پخپله هم په بل چا باروي. دا دنړي په اسلامي اوغير اسلامي تاريخ كي ثابته ده چي كله ديو ملك پوځ داخلاقي حدودو څخه تجاوز وكړي نو هغوي بي جرئته ، بزدله اوبي غيرته شي اوبيا له جنگ څخه تيښتي ته ترجيح وركوي.

نوكله چي ددي اداري كرائي عسكر و دحلال اوحرام تر مينځ فرق نه كاوه ،ظلم اوزياتي بې نه پيژانده ، لوټماري اوغلا ورته گناه نه ښكاريده ، دخلكو ناموس ته به ني په سپك نظر كاته (چي ددي غټ مثال دمسعود دډيريكيانو په لاس دشيعه گانو د سڅو هغه بي عزته كول ؤ چي څه باندي يوكال دمخه دنړي دټولو آزادانو څخه دهغي خبر خپور شو، اوبل مثال يې دشهادت د ، گيانې په خوله دهغي عفيفي خورمثال دى چي په مكروزيانو كي يې دشيرم منزل څخه ځان لاندي وغورزاوه اوشهيده شوه چي علت يې دا ؤ چي دمسعود مليشي دي پسي دبي عزته كولو لپاره خنلي و ، هغي چي دتيښتي لاره وركه كړه نو مجبوراً دبي عفتي په ځاى بي مرگ ته ترجيح وركړه. نو دي اداري ونشو كړاي چي دسقوط څخه ځان وژغوري.

٦- ناهلو ته كارسپارل:

پيښتانه متل كوي چي « تركاني ديبزوكارنه دي» نوكار چي كله متاسب كاركوونكي ته وسپارل شي، اداره به ښه وچليږي او د اداري دپښكيښت سبب گرځي اوكله چي كاركوونكي يې ناهله وي نوهغه خپله دنده په ښه توگه وراندي نه شي بيولاي اوپه نتيجه كي گډوډي راځي اوكاركوونكي او ادار دواړه بدنامه كيږي.

نو دكابل پخواني اداري په سطلق اكثريت سره ناهله وه ، سياستمدارانو بي سياست نه پيژانده اونه د ربنيا او دروغو په توپير پوهيدل اچي دهغي ځرگند مثالونه درباني وياند عبدالعزيز مراد اودحكمتيار د باند وياند قريب الرحمن سعيد و چي ددوي كردار ټولو افغانانو ته معلوم دي) اداره چيانو بې اداره خپله شخصي شتمنى گڼله نو په كوم اساس به دغي اداري له سقوط څخه ځان ژغورلاى واي.

۷- طبقاتي نظام :

دغي اداري سرمايه داري اوطبقاتي نظام ته ترجيح وركړى ؤ اودملك سرمايه يو څوكسانو خپل مينځو كي سره ويشلي و چي دهغوي له جملي څخه رباني احمد شاگان ،سياف، اسماعيل خان ،چكري، انجنير عبدالغفار ، حضرت علي اوحاجي عبدالقدير ، زرداد ، قلم اونور ديادوني وړ دي .

نويه كوم ملك كي چي ژوند طبقاتي شي خلك مجبور شي چي خپل غصب شوى حق ترلاسه كړي.

كله چي دافغانستان مسلمان ولس ولـ... چي دزور خاوندانو دوطن ټوله سرمايه خپله كړي اودخداي «جل جلاله» څخه وېره نه لري اوپه مقابل كي هغه سپيڅلي خلك دي چي غټ هدف يې دادي چي حق حقدار ته وسپاري، مظلوم دظالم څخه خلاص كړي او اجتماعي عدالت تأمين كړي. نو خلكو دخپل فطري جذبي په بنياد طالبانو ته دراتلو دعوت وركړ اوهغوي ته يې دهمكاري ژمنه وركړه چي په نتيجه كي دغه اداره ديرله پسي ماتي څخه وروسته دخداي «جل جلاله» په كومك وپرزيده.

۸- اقتصادي تباهي:

دكوم ملك مشر چي دخپل اقتصادي حالت دښه كولو كوښښ وكړي، نوخلك ورڅخه خوشحاله وي او ورسره ملاتړ كوي .چي په نتيجه كي دقوي كيدو په حال كي شي اوكومه اداره چي اقتصاد يې خرابوي هغه خداي« جل جلاله » اوبندگانوته مبغوض شي اوخلك ورته دكركي په نظر وگوري. نو درباني پخواني اداره چي اقتصادي يې صفر سره ضرب كړ ، وضعه يې انقلابيون ته ورسوله اودمسلمانانو ژوند يې زهرجن كړي دي نو دداسي اداري رباني كيدو مجال نه وُ پاتي .

۹- د ابتكار نشتوالي:

دغه غير فطري ائتلاف چي خپل عقل يې په اوبو لاهو كړي ، هركله ديرديو خولې ته ناست دي دشو اوبدو توپير پخپله نشي كولاي، څه چي ورته بادارن ووايي دهغه په عملي كولو ته شرميږي ، هميشه دنورو مشورو په عملي كولو سره ديو مزدور وظيفه اجرا ، كوي ، اوبنكاره خبره ده چي پردي خپله گڼه په تنظر كي نيسي اودافغانستان گټي سره دهغوي څه اړيكي نشته ، نو داسي اداره چي بيا اداره نشي چلولي چي په نتيجه كي طبعاً پرزي.

۱۰- متزلزله اراده :

متل دي چي « تصميم ديري لومړي شرط دي» اوكله چي انسان قاطعيت ونه لري نومتذبذب شي او دهوكو اودخندا شي ، تزلزل هغه مرض دي چي دهغه علاج له ډاكترانو اوحكيمانو سره نشته.

د رباني رابرزيدلي اداري چي دقاطعيت اوتصميم په معنى هم نه پوهيده ، دخپل واكداري د اوږدولو لپاره يې كله بوكس ته وخالد بن وليد لقب وركاوه اوبيا يې ورباندي دكمونست اوملحد حكم كاوه ، اوكله به چي مجبور شو به يې ورته په ډيره عاجزي سره دغو منابعو ته ورانديز كاوه ، بو چاته يې دوروري لاس وركړي او بياپي مناقق اوباغي كړي دي اوبيا ورسره اجاره داري شريكه كړي وه دافغانستان مسلمان ولس چي دا تذبذب اوتزلزل وكوت خلكوته معلومه شوه چي داخلك په غيرت اوشريعت دواړو پوري توقي كوي او دابه دبن پوري ملنډي كـوي. نوټول سليم فطرته خلكوله دي اداري سره مقاطعه اعلان كړه اوهغه چاته يې لاس وركړي چي دهغوي قاطعيت اوتصميم ډولي نړي ته ښكاره دي. لكه څنگه چي د ډاكتر نجيب په اعدامولو سره ټولي نړي ته ثابته شوه چي دغه حركت بوخالص ، مستقل ،اسلامي او افغاني حركت دي اوكه ټولي نړي ! په شمول دحكمتيار) دنجيب په اعدامولو خفه كيږي ليكن داكفايت كوي چي زموږ دردېدلي اوځوريدلي كونډي ، رنډي بوري وزاري اوپتيمان ورباندي خوشحاليږي.

۱۱- دروغجن سياست اوناروا پروپاگند:

ويل كيږي چي دروغجن حافظه نه لري تودغه ډله « خصوصاً دحكمتيار باند » چي په دي وروستيو ورځوكي په ټولو ساحو دسياسي ،نظامي اواجتماعي كي پاتي راغلي نو يواځي دروغ او پروپاگند ورته پاتي دي اودستنادا پروپاگند په ډيهوري سره دغه باند د رباني سره په يوځاي كيدو ددغي اداري سياسي دريځ گډوډ كړ. حكمتيار چي دقدرت دحاصلولو په خاطر دنورو حربو سره سره دپروپاگند حربه هم استعمال كړي درباني اداره ني په ديرويدو بدو تورونوتورنه كړي ؤ چي دهغوي له جملي څخه دهندوستان او روسي په غلامي، ددوي دمشاورينو په كابل كي موجوديت او نور ديادوني وړ دي.

او همدارنگه رباني حكمتيار اوطالبان په مختلفو تورونو تورن كول چي ددوي ددي متضاد پروپاگند په نتيجه كي دوي دخلكو اعتماد دځان څخه لري كړ اوبرزيدو ته برابر شو.

دشرم خبره خو داده چي دبانډونو د ډاكتر نجيب داعدام ترمخه دا ډهوره غبولو چي طالبانو سره دنجيب دولي همكاري ده او دقدرت ته درسيدو سره سم به ډاكتر نجيب دجمهور رئيس په حيث وټاكل شي ليكن ددوي د اداري د رنگيدو اودنجيب داعدام سره جوخت گلبدين په ډيره بي حيائي سره دنجيب په مرگ خواشيني ښكاره كړه او دقتل پړه يې په كمونستانو واچوله . نو چي داسلاوي اوداني تراويج - ددداسي اداري نتيجه به همداسي شي.

۱۲- كبر اوغرور:

پيغمبر عليه السلام فرمايي:« چاچي تواضع اختيار كړه نو الله پاك به هغه اوچت كړي او چاچي لوئي وكړه نو الله پاك به هغه وغورزوي » اودكبر نتيجه داده چي دقيامت تروږځي په شيطان لعنت ويل كيږي . درباني اداره اوخصوصاً دحكمتيار باند هروخت دكبر څخه ډكي خبري كوي او زه خپله داهم وايم چي مابه ټول عمر كي دحكمتيار دخولي څخه ده انشاء الله، لفظ نه دي اوريدلي. ځوكاله دمخه په خپل يوخبرياتي تقرير كي ده وفرمايل: بعضي گوندونه داسلامي گوند په نسبت داسي دي لكه دحزب يوه جبهه اويا په جيب كي قلم اودابه يې هم ويل چي دحزب اسلامي بوځاي كيدو پرته هيڅ حكومت نشي جوړيداي اوحزب اسلامي چي دكوم حكومت تائيد وكړي هغه به حتمي كامياب وي اوددي څخه خبر نه ؤ چي داسي شاه زلميان ددين په مينه مست خلك به راشي چي دحكمتيار دهغوي سره نسبت هم نه شي كيداي اوحكمتيار به دحكومت په جوړلو كي دپيازو په اندازه اهميت هم پيدا نه كړي. هغه بله شپه دائتلافي اداري دړنگيدو څخه يواځي يونيم ساعت مخكي ده وفرمايل: « زه به دزور حكومت ونه منم او تراخره پوري به وجنگيږم» او نوري اوږي بوټي يې هم ووي ليكن غيرت اوجرئت يې په دي انداز ؤ چي ددي خبري له نشريدو څخه يواځي يونيم ساعت وروسته يې داسي تيښته وكړه چي ترنن تاريخ پوري خپل ځاي هم چاته نه شي ښودلي.

اوپه مقابل كي يې هغه خلك دي چي تواضع ، انكسار اوعاجزي خپل شعار بولي. دفتحي په كيدو د دزو اوجشن په ځاي خداي ته سربه سجده ږدي اودخداي شكر ادا، كوي اوتلاوت كوي نوڅكه دي حركت سره خلك خوشحاليږي او دوي ته هركلي وايي . خداي پاك هم داسي خلكو ته بري وركوي او داسلامي نظام د راوستلو استعداد وربخښي اوهمدا ټول ملت ارزو ده.

ماتی ئی لا نه بولی؟

نظری

دکابل پخوانی غاصب اوقابض شړل شوي اوپه تیښته تللي په اصطلاح جمهور رئیس «رباني» په هغه پوري غوټه شوي په اصطلاح صدراعظم «حکمتیار» اوس لاهم خپله ماتې اوشکست تاکتیکي بولي اوځانونه په داس حال کي دافغانستان واکداران بولي چي دخپلي ناستي ځاي هم په ټول هیواد کښي نه لري، دوي له ملته داسي تجربه او وشړل شول چي اوس خپل ځان چاته نه شي ښودلاي. دوي دملت له محاکمي څخه تښتیدلي فرارین دي. داهغه مجرمان دي چي آباد هیواد یې په کنډواله بدل کړ په زرهاوو هیوادوال یې شهیدان او میندي یې کونډي کړي اوله ملت سره ئي زیاته جفا وکړه. داسلام په نامه یې هرڅه وشوکول.

هغه متل دي چي (غل په غره کښي نه ځایږي) اوس هم دغه ائتلافي لوټماران چي دائتلاف غوښتونکي دي وړي شول دوي دلیونیانو په څیر دښتو اوغرونو ته مخه وکړه اوس په سالنګونو کښي حملي تیروي؟!

عجیبه خو لاداچي دغه بدمرغه ملت اوهیواد ته مخ نه لري بیا لاهم له نامعلوم ځاي څخه چیغي وهي او واي چي دولت مونږ په ځان پوري ترلي اوس دهیواد کابینه په نامعلوم ځاي کښي پرته له وزارت خانو اوکارمندانو شمال ته انتقال شوي اوددولت شوري په عادي ډول له معمول سره سم خپل کار کوي.

هو! هاغه حکومت چي ددولت رئیس په کابل کښي اوصدراعظم ئي په چاراسیاب کي په کلونو کلونو یو په بل راکښونه اورول. دخپل هیواد ملي اوملکي شتمني ئي سوځولي او دخپل هیواد هرڅه ئي پردونه دکباړ په بیه صادرکړل وزارت خاني ئي چور اوچپاول کړي؟ ملي ارشیف ئي په کاغذونو تبدیل کړ دملي اوردو بنیاد یې له مینځه یووړ

دکابل اوسیدونکي یې دجلال آباد په کمپونو کښي وسوځول

اوس لا بیا هم دوي غواړي بوه متحده جبهه جوړه کړي اودپخوا په شان له غرو نورغرنو څخه خپل هیوادوال دتوپونو خولي ته ورټي

خو! انشاء الله داسلامي تحریك شاه زلمیان به دوي په غرونو کښي هم چي په غارونو کښي به یې هم پري نږدي ترڅو دوي د بیا لپاره لکه دپخوا په شان دهیواد ددښمنانو په لاسونو کښي ونه لوبیږي اوبیاحل بیا دخپل هیواد لپاره دتخریب او وژلونو جوگه نه شي.

دحیرانتیا خبره داده چي دجهاد په اوږدو کښي دمتحدي جبهي ، غوښتونکي ونه کړاي شولي چي دکفر اوکمونزم په خلاف له تنظیمونو سره په یوه اتحاد کښي پاتي شي هروخت به دغه د متحدي جبهي داعي په دي خپه کیدو چي زه خو دزیاتو امتیازاتو مستحق یم ولي په دي لږه برخه قانع شم! آن تردي چي په دغه هوس کښي یې خپل هیواد په ویرانه بدل کړ خو متحدنه شو اوس چي بیا یې سرپه غرور غوښو دشپي دتیرولو ځاي په ټول هیواد کښي نه لري خو دي متحده جبهه غواړي له چاته ئي غواړي؟ اودچاپه مقابل کښي یې جوړوي؟

داقضاوت په درنو هیوادوالو ته وسپارو او ویه گورو چي خداي «جل جلاله» څه کوي.

د ادب ملغلري

لاسونه سره ورکړی

هدایت الله نعمانی

لاسونه سره ورکړی دښمنان کړی په زرا
وکړی اعتصام په لااله الا الله
حوانانو مجاهد شی * الله پاك ته ساجد شی
دښمن باندی وردانگی چی الله پاك شی رضاء
وکړی اعتصام په لااله الا الله
خالد له ځانه جوړ کړی * اسلام په ځمکه خپور کړی
ځوانانو ځان ته وگټی دیدار دپاك الله
وکړی اعتصام په لااله الا الله
ورکی داتیاری کړئ * راپورته انگازی کړی
شهیدان کړی خپل ځانونه چی موږوند شی په خندا
وکړی اعتصام په لااله الا الله
قرآن زموږ نظام دی * تنفیذ مو دیر ارمان دی
راواخلی راکیټونه چی هندوان کړو ټول تبا
وکړی اعتصام په لااله الا الله
ورك اختلافات کړی * اخوة آیة په یاد کړی
خوشحال به نعمانی شی کی نصیب شی معلیٰ
وکړی اعتصام په لااله الا الله

طالبان راغلل

سیف الرحمن برووال

تنکی زلمی اتل ځوانان راغلل
په رڼا ورځ لکه زمریان راغلل
ښنی ببله ښنی خالی چیلکو سره
داحمد شاه بابا لمسیان راغلل
په هره دښته دکندهاراوهرات
دا خدای پرسته طالبان راغلل
دشریعت جنډی په لاس کی لری
ددین دشمعی پتنگان راغلل
له ظالمانو نه یی خلاص کړو موږه
دجنگ میدان ته داغازیان راغلل
دوی چی قانون دپاك قرآن نافذ کړ
ملابورجان اواتلان راغلل
دحصارت نه تر تورخمه پوری
په یو شتاب لکه باران راغلل
داسلام زیری ئی ملت ته راوړ
چی په بوفضل دسبحان راغلل

ښکلی نظام راغی

روح الله روحانی

کابل کښی حکم دقرآن راغی
امر تطبیق دپاك سبحان راغی
ای وطن والو مبارك موشه
محمدی ښکلی فرمان راغی
دکابل خلکو اوس داړه اوسیږی
ستاسو ژوندون داطمینان راغی
دطالبانو توغ رپیږی دلته
داسلامی تحریك زمان راغی
کفری تری باندی لرزه گده شوه
بیا په دښمن باندی لروزان راغی
داسلام حکم ترقی ده وروبو
دنری نظم په جریان راغی
لاس په دعا نن روحانی دی ورته
دعدالت ښکلی دوران راغی

گرانه کابل جانه!

ملا اسدالله حنیفی

گرانه کابل جانه! طالبان درته راغلی دی
ښتادننگ اوپت پاسبانان درته راغلی دی
سترگی ورته ږدیږی کړه چی پلونه یی زخمی نه کړی
گل غوندی نازك نازك ځوانان درته راغلی دی
ستاکرم کرم بدن به زر ترزره وگنډی
لږ ورته ساورکړه دیر ستومان درته راغلی دی
ته یی د زړه سربی گوره دوی حرام نمك نه دی
داد درکوم واوره! ستا بچیان درته راغلی دی
ته یی دخپل سر په بیه خلاص کړی دلیوه له خولی
وی نازوه ویښ شه ناجیان درته رسی .ی
ستاله غیږی تللی و چی شوی مسافر به وو
تنده یی کړه ماته روزتیان درته راغلی دی
واوره کابل جانه! خپل بچیان په غیږ کی ونیسه
سوی په بتی کښی دهجران درته راغلی دی
غواړی حنیفی لنا اودغه تمنا لری
لاس ورسره وکړه معماران درته راغلی دی
۱۳۷۵/۷/۸هـ ش

خدمات دینی واجتماعی علماء در تاریخ معاصر کشور

علماء وجامعه، روحانیت کشور محافظین وسپاهیان سرحدات جغرافیایی ونظریاتی کشور اند

قسمت بیستم

قلمه جوادی

علل سقوط رژیم امانی

درقدم اول انتقادات وارده را که برقوانین وطرز کار ورجال رژیم امانی از جانب منتقدانیکه از روحیه سیکولرستی برخوردار بوده وحامین سرسخت رژیم امانی پنداشته میشوند. تذکر میدهیم ،همین انتقادات وارد ویه جای بود که هر کدام آن بنوبه خود تدریجاً سبب وعلت سقوط رژیم امانی را در بطن رژیم مهیا گردانید عبدالحی حبیبی درکتاب خود(جنبش مشروطیت درافغانستان) زیر عنوان « نگاه انتقادی قانونی اساسی ۱۳۰۱ش.هـ» قانون متذکره را باتائید که از آن میکند چنین مورد تنقید قرار میدهد: « ... ولی با داشتن شوری محدود دولت وتمرکز تمام اختیارات در ذات یك پادشاه غیر مسئول (ماده ششم) اصل مشروطیت درآن ضعیف میباشد» به اینصورت در رژیم امانی روحیه مطلقیت ودیکتاتوری غلبه داشت برمشروطیت ودیموکراسی ، طبیعی مینمایدکه همچون رژیمها بقای بیشتر نداشته ودیر پا نمیباشند.

